دی به اکثره په کابل ښار کښی د ننه په پټه د پلانونو په اجرا کولو بوخت ؤ .

په ۱۳۵٦ کال کښی کله چی عبدالحق له ملګرو سره یی د رژیم په خلاف د یوی کودتا د اجراء په پلان کار کاوه ، په کابل کښی د حکومت له خوا ونیول شو ، دی لا په زندان کښی ؤ چی د ثور خونړی کودتا تر سره شوه او کمونستانو قدرت غصب کړ . ترکودتا څه موده وروسته عبدالحق له زندان نه خوشی شو چی بیر ته یی پاکستان ته هجرت وکړ او یوځل بیا یی په جهاد لاس پوری کړ .

لومړی ده په پکتیا او ننګرهار کښی جهاد کاوه او هم په جلال آباد ښار کښی د ښاری عملیاتو مسئولیت دده په غاړه ؤ چی هلته یی هم بی ساری جهادی فعالیت وکړ او زیات بریالیتوبونه یی ترلاسه کړل . په جهاد کښی د ده خاصه زړورتیا ، مهارت او درایت ؤ چی د کابل ولایت د جهاد مسئوولیت و روسپارل شو .

ښاغلی عبدالحق په کابل ښار او مربوطاتو کښی یی خپل جهادی فعالیت په دووساحو کښی عیار او فعال کړ . یو په ښار کښی د ننه مخفی فعالیت او مسلح عملیات او بل د ښار نه بهرد منظمو مسلحو ګروپونو او جبهو تشکیلول .

په کابل ښار کښی د ننه د ده مجاهدینو وظیفه درلوده چی د جهاد په باب د خلکو اذهان روښانه کړی ، د کمونستانو واقعی څیری او خیانتونه خلکو ته افشاء کړی او له مجاهدینو سره یی ملاتړ او همکاری ته جلب او جذب کړی او د دی تر څنګ یی د ښار په منځ کښی د چریکی عملیاتو اجراء او د ځینی نورو پروګرامونو

عملی کول په غاړه در لودل .

د قوماندان عبدالحق مجاهدینو د کابل ښار په شا او خواکی د خپلو وسله والو جهادی عملیاتو په نتیجه کښی مزدور رژیم له ځلورو خوا ؤ څخه تر فشار لاندی راووست . دوی په نظامی اهدافو او مرکزونو ، د برښناد زیرولو اولیږدولو په دستگاؤ او داسی نورو اهدافو باندی چی د کموستی رژیم او روسانو د تقویت او ټینگښت سبب کیدل ، عملیات اجرا کول . څو د دی دوواړ خیزو ښاری او د ښارنه د باندی عملیاتو په نتیجه کښی رژیم ترفشار لاندی راشی ، کمزوری شی او د قدرت پایی یی و نړیږی .

د همداسی منظمو پروگرامونو په رڼاکښی قوماندان عبدالحق د کابل په ښار او شا او خواسیموکی مختلف ، مؤثر او مهم عملیات سرته ورسول چی دښمن پی له سختو ستونزو سره مخامخ کړ .

حاجی عبدالحق په پغمان او شیوه کیو کښی چی د کابل ښار په څو کیلومتری کښی پراته دی ، ډیر لوی . لوی علمیات سرته ورسول ، دده تر قوماندی لاندی مجاهدینو د ماهیپرد برښنا پربند ، د سروبی د برښنا پردستگاه او فابریکه ، په پل چرخی کښی د برښنا پر حرارتی ستیشن ، د روسیی پر سفارت ، بالاحصار او د خواجه رواش او بگرام په هوایی اډواو ډیرو نورو نظامی اهدافو او مرکزونو باندی درانه او بریالی عملیات سرته رسولی چی د ټولو شمیرل دلته اوږ دیږی .

له هغو ډیرو مهمو عملیاتو څخه چی نړیوال موج او شهرت یی پیدا کړ د قرغی د مهمی نظامی ډیپو د الوزولو عملیات وو چی د ۱۹۸٦ کال په اگست کښی د حاجی عبدالحق له خوا تر سره

۳

دکابل مجاهدین
"اشداء علی الکفار رحماء بینهم"

شول ، د مهماتو په دی عمومی ډیپوکښی له کلونو۔ کلونو حربی مواد پراته وو او دروسانو له خوا جوړ کړای شوی «سام دو» راکټونه هم په پراخه پیمانه هلته ځای په ځای کړای شوی وو ، دا ډیپو تر داسی دقیق هدف لاندی ونیوله شوه چی له لګیدو سره سم یی او رواخیست ، چاودنی پکښی پیل شوی او دری شپی ورځی اورپکښی بلیده ، د کابل ګوډاکی رژیم او روسان د دی اور په مړه کولو کی ناکام شول ، د حربی ذخیری د انفجاراتو شدت دومره زیات ؤ چی د قرغی په دوولس کیلومتری کښی د کورو نو د کړکیو ښیښی ماتی شوی او سیمی ته یی ژور ټکانو نه ورکړل . د دی ډیپو د زیان اندازه د یو ملیارد ډالرو شا او خوا اټکل شوی ده .

قوماندان عبدالحق کله چی په ۱۹۸۷ کال کښی د کابل ښار پرنظامی اهدافو باندی د یوه عمومی عملیات په بهیرکی د شپی له خوا پر یوه پرسونل ضدمین باندی د ختلو په ترځ کښی سخت ټپی شو چی خپله یوه پښه یی له لاسه ورکړه خو ترلنډی مودی تداوی وروسته یی بیر ته د سنګر لاره ونیوه او اوس هم په تودو سنګرونو کښی په و یاړمن او زړور جهاد بوخت دی .

قوماندان عبدالحق تل زیارایستلی چی د اسلام ددی مقدس، لاربښودنی په بناء چی : «اشداء علی الکفار رحماء بینهم» خپل مجاهدین عیار اوسنبال کړی او همدی روش د ده مجاهدینو ته مهم خصوصیات وربخښلی چی دلته یی شمیرو :

۱ ـ عبدالحق تل زیار ایستلی چی له تنظیمی ، منطقوی اولسانی اختلافاتو او تعصباتو څخه ځان لری وساتی . دی خپلو مجاهدینو ته تل لاربښوو نه کوی چی هیڅکله هم داسی عمل و نه کړی چی د دی ډول شخړو سبب شی ، نه یوازی دا بلکه که کله د

نورو تنظیمونو ترمنځ په ګوندی یانورو مسایلو باندی شخړه منځ ته راغلی عبدالحق د خپل ټول وس او توان سره سم د داسی شخړو په مخنیوی او حل کی هڅه کړی او دا اختلافو نه بی هوار کړی دی. داسی هم پیښ شوی چی د نورو تنظیمونو د مجاهدینو له خوا زموږ پر مجاهدینو باندی تیری او تجاوز شوی خو سره له دی هم عبدالحق خپلو مجاهدینو ته د متقابل ځواب اجازت نه دی ورکړی.

قوماندان عبدالحق تل هڅه کړی چی له نورو قوماندانانو او مجاهدینو سره دوستانه اړیکی وساتی او هر یوه ته د ضرورت په وخت کی د همکاری او دوستی لاس اوږد کړی.

۲ ـ کله چی ضرورت پیښ شوی قوماندان عبدالحق له خپلو مجاهدینو سره د کابل له حدودو څخه و تلی او په نوروولایاتوکی د جهاد سنګرونو ته حاضر شوی دی. د نمونی په ډول څوځوځلی کونړ، ننګرهار او پکتیاته زموږ مجاهدین د هغه ځایو نود مجاهدینو د مرستی له پاره تللی دی. په دی برخه کی زموږ ډیر تکړه قوماندان ضابط محمد جان د ننګرهار د نازیانو په جنګ کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید.

۳ ـ قوماندان عبدالحق د عملیاتو داجرا کولو په وخت کی حتی الوسع کوښښ کړی چی اولسی او غیر نظامی خلك له خطر او زیان سره مخامخ نه شی او دا نداخت په وخت کی یی له پوره دقت څخه کار اخیتسی دی. ده تل له غیر دقیقو او بی سنجشه انداختونو او جملو څخه خپل مجاهدین منع کړی او اجازه یی نه ده ورکړی چی اولسی او غیر نظامی خلکو ته یوه ذره تکلیف هم ورسیږی دا ځکه چی موږ د همدی بی دفاع او ځوریدلو خلکو د

ساتنی او خلاصون له پاره وسله اخیستی او باید په هیڅ دول دعفوی د تکلیف سبب و نه گرځو .

٤ ـ د ده هڅه او توصیه داده چی ملی منافعو او مصالحوته په هر څه باندی ترجیح ورکړی او هیڅکله هم د ژبنیو، سیمه ایزو او گوندی احساساتو او تعصباتو ښکار نشی او اهمیت ورنه کړی .

۴

کابل :
نیول هم غواړي
ودان سائل هم

«کابل ښار باید له ورانیدو او تباهی پرته

د مزدور رژیم له پنجونه آزاد کړی شی .» .

(قوماندان عبدالحق)

موږ د کابل په اهمیت مخکی خبری وکړی ، د همدی اهمیت له

کبله د کابل قوماندان حاجی عبدالحق د دی ښار د آزادولو له پاره

یو خاص پلان جوړ کړی او داسی ترتیبات یی نیولی چی دا ښار په

لږه قربانی او لږو تلفاتو آزاد او د کمونستانو له وا که ووزی .

مجاهدین د کابل ښار په باب درانه مسئوولیتونه لری ، دوی باید دا ښار له لوټمار او چوراو چپاول څخه وژغوری ، هلته دوی هیڅ راز ګوندی ، ژبنیو او سیمه ایزو تعصباتو ته ځای ورنه کړی . دوی خپل دا دروند مسئوولیت هغه وخت په ښه توګه ترسره کولی شی چی د عملی کولو له پاره یی یو متحد پروګرام ولری .

قوماندان عبدالحق د خپل سیاسی درك له مخی څرګندوی چی روسان او د هغوی ګوډاګی رژیم زیار باسی چی په کابل کی بی نظمی ، لوټمار او مرګ ژوبله رامنځ ته کړی او هدف یی دادی چی نړیوالو ته داو ښیی چی ګواکی دا مجاهدین دی چی په دی یو ولسو کلونو کی یی د هیوادو ګړو ته دا تباهی راوړی ده ، روسان او داخلی کمونستان ګرم نه دی . او له دی سره روسان دا زیارهم باسی چی د یونیم ملیون افغانانو د وژلو مسئوولیت له خپلو اوږو نه لری کړی او ځان نړیوالو ته دسولی د داعی په توګه ورو پیژنی او دهمدی هدف د ترسره کولو له پاره روسانو یو زیات شمیر افغانان روزلی او هغوی ته یی په کابل کی دوسلی او مهماتو پټی ذخیری سپارلی دی .

قوماندان عبدالحق په دی سربیره د نورو دښمنانو له توطیو نه هم غافل نه دی او عقیده لری چی له بله پلوه داویره هم شته چی ځینی نور هیوادونه هم د خپلو اهدافو د ترسره کولو له پاره دپیسو او ځینی نورو په اصطلاح دبشری مرستو په نوم زموږ په داخلی چارو کښی لاس وهنی پیل کړی دی او دا ټول د دی سبب کیږی چی هلته یوه غیر عادی او متشنجه فضارا منځ ته شی .

دی د دی ټولو خطرونو او ناانډولیو د مخنیوی له پاره نظر

ورکوی چی زه او زما په شان ځونو رقوماندانان په یوازی ځان نشی کولای چی د افغانستان ملت له یادو شو و خطرو ځخه وژغوری خو د کابل د ټولو قوماندانانو په ګډ کوښښ او زیار سره دا ممکنه ده چی موږ د کابل ښار له لوټمار او تباهی نه وساتو او حتی د کابل اوسیدونکو ته له بی ځایه تلفاتو او مرګ ځخه نجات ورکړو دا ځکه چی مجاهدینو خپل جهاد د خپل مسلمان ملت د نجات لپاره پیل کړی نه د دی له پاره چه دا ملت له تباهی او بربادی سره مخ کړی .

قوماندان عبدالحق عقیده لری چی مجاهدین باید د روسانو غوندی قدرت طلبه رویه غوره نه کړی ، روسانو په افغانستان کی قدرت ته درسیدو له پاره ډیر بی ګناه مسلمانان ووژل نو په دی اساس د کابل د نظم او امنیت د ساتلو له پاره د تنظیمونو د مشرانو له خوا د یوه ، ګډاو پراخ پروګرام جوړول لازمی دی .

ده د داسی یوه پروګرام د فقدان له امله د عاجل ضرورت او د کابل د خلکو او مجاهدینو په وړاندی د خپل مسئوولیت له امله د کابل ښار د ساتلو له پاره یو منظم پروګرام طرح کړی چی په لاندی ټکو ولاړدی :

۱ ـ له افغانستان نه په بشپړه توګهٔ د روسی یرغلګرو قواؤ ایستل .

۲ ـ د نجیب په مشری د کابل د کمونست رژیم له منځه وړل .

۳ ـ خلکو ته دامن او امان داډ ورکول او د ملی او بین المللی تائسیساتو ساتنه .

احمد شاه ((وحدت))
Ahmad Shah (Vahdat)
A. K. P. O.

کابل د آزادی پیلور

٤ ـ د ښار بشپړ کنترول په لاس کی نیول ، د دښمن د هر پلان څارنه او د هغه له منځه وړل ، د دښمن د تروریستی اعمالو مخنیوی او د دوی د تخریبی پلانونو شنډول .

٥ ـ د خلکو د ژوند لومړنی اړتیاوی لکه خوراکی مواد ، دسونګ مواد او نقلیه وسایل برابر ول .

٦ ـ له څلورو خواؤ څخه د کابل ښار ساتل ، د چور او چپاول په منظور د احتمالی بریدونو د مخنیوی له پاره د نظم او تدبیر نیول ، د کابل له څلورو خوا ؤ څخه د ماتی خوړلی رژیم د پاتی قواؤ د یر غل او یاد روسانو د بیا احتمالی مداخلی مخنیوی .

٧ ـ د کابل د کمونستی رژیم له سقوط څخه وروسته د کابل د ټولو لویوا کمالاتی لارو ساتل او په کابل ښار کی د خوراکی موادو د بیو څارل .

د پور تنیو اهدافو د عملی کیدوله پاره لاندینی تدبیرونه باید ونیول شی :

١ ـ داردو ، مجاهدینو او د کابل داو سیدونکو همکاری .

٢ ـ د مجاهدینو له پاره دیوی خاصی علامی ټاکل څو خپل ارتباطی کسان او د حمل و نقل وسایل پری و پیژنی .

٣ ـ د پروګرام د تطبیق او دعامه امنیت او تنظیم له پاره د کسانو ګومارل .

٤ ـ د خوراکی ، طبی او د سونګ د موادو تهیه کولو له پاره د یوه لوژستیك جوړول او هم د مجاهدینو او توظیف شوی پرسونل له پاره ددی موادو برابر ول .

٥ ـ له خلکو سره د طبی مرستو کولو په منظور د روغتونونو

فعالول او هم د صحی لومړنیو مرستو له پاره د سیارو کلینیکونو جوړول .

٦ ـ د خلکو د معلوماتو او خبرتیا په غرض دراډیویی او تلویزیونی دستگاؤ فعالول .

٧ ـ د اطفائیی دوسایلو چمتوکول .

٨ ـ د دښمن دوسلو د پټو ذخیرو لټول او ترلاسه کول څو له دی لاری د دوی د هر ډول و رانکار یو او گډوډیو مخه ونیو له شی .

٩ ـ د جنگی اسیرانو نظارت او حفاظت .

د کابل د خلکو له احتمالی تباهی او مصایبو څخه د ژغورلو له پاره به دا پروگرام په دریو مرحلو کی ترسره کیږی :

١ ـ په بشپړه توگهٔ د روسی قواو ایستل او د کابل درژیم سقوط .

٢ ـ د ښار اود هغه د تاسیساتو حفاظت .

٣ ـ له خارجی احتمالی بریدونو څخه ښار ساتل .

پورتنی عاجل پروگرام به هغه وخت تطبیقیږی چی کابل رژیم داتحاد له خوا د یوگډ پروگرام له تهیه کیدو نه مخکی سقوط وکړی . د دی پروگرام تطبیق به کابل ښار له لوټمار ، تباهی او یاد دښمن له خوا څخه په بشپړه توگه له سوځیدو څخه په امن کی وساتی .

دی د دی ملحوظاتو او څیړنی په رڼاکی وړاندیز کوی چی ټول مجاهد تنظیمونه دی ددی کار د عملی کیدو له پاره یو گډ پروگرام جوړ کړی او که په داسی یوه پروگرام باندی توافق رانغی


مرکز قومانده
اداره عمومی
مخابرات
قوه ضربتی
اداره نظامی
منتظره
عملیاتی
اداره محبوسین
قوای انضباط
استخبارات
شعبه تبلیغات و اعلانات
محافظه مؤسسات دولتی
محافظه سفارت خانه ها



نمبر حوزه
مسئول حوزه
اسم اصلی
اسم مستعار
مسئول مالی
مسئول اداری
مسئول افراد نظامی
مسئول استادان محصلین ومتعلمین
مسئول کارمندان دولتی
مسئول کسبه کاران
مسئول افراد عملیاتی
مسئول افراد جمع‌آوری معلومات

۵

بهونړنه پیغامونه



نوبیا به قوماندان عبدالحق د خپل مسئوولیت په بناخپل پورتنی پروگرام عملی کړی شود دی پروگرام په نتیجه کی کابل له بی ځایه وینی توییدلو ځخه پرته آزاد او د کابل ښار واك مجاهدین ترلاسه کړی .

قوماندان عبدالحق او د ده مجاهدینو په کابل کی د رژیم په نظامی او اقتصادی تاسیساتو باندی د توغوندیو او وسله والو بریدونو ترخنګ تل زیار ایستلی چی د کابل اولسی خلك مصئوون پاتی شی او زمور دی بیدفاع هیوادوالو ته زیان و نه رسیږی .

له همدی امله د کابل مجاهدینو ډیر ځل د بمونو پر ځای کابل ښار ته شبنامی و رویشلی د کابل له ښاریانو سره یی خپل پیوستون څرګند کړی او د هغوی پیوستون او مرسته یی پکی غوښتی دی .

د همداسی شبنامو ځینی برخی سره لولو :

«ډیرو ګرانو او د رنو ښاریانو ! تاسو په افغانستان کی د سرو قواؤ شرمیدلی ماته ولیده ، د افغانستان دا تل ملت د اویاړ تراوسه د بشریت په تاریخ کی د بل ملت په برخه شوی نه دی . دا ړ یاړ ستاسو در نوهیوادوالو د هغو ځورو نو ، شکنجو ، لوږو ، زغم ، فداکاری او ټینګار محصول ؤ چی د کمونیزم د نړیوال ابر قدرت او د دوی د مزدورانو په وړاندی موږ ښود ، نوراځئ چی د یوه آزاد ، سر لوړی او اسلامی افغانستان در امنځ ته کولو له پاره لاسو نه سره ور کړو او د خپل ملت دالو یه قربانی د بری پړاوته ورسوو .

درنو ښاریانو ! کمونست رژیم دراډیو او تلویزیون له لاری د زهرجنو تبلیغاتو په وسیله غواړی د آزادی له پاره د بشریت دا لویه قربانی مسخ کړی او د خپل ژوند دا ور دیدو له پاره یی که ملت له بشپړی تباهی سره هم مخامخ شی دوی ته بی اهمیته ده ، دوی غواړی چی تاسو درانه هیوادوال په خپلو لیکو کی و دروی او په دی توګه تاسو په خپلو جرمونوکی شریك کړی همدا راز مزدور رژیم د غولوونکو تبلیغاتو له لاری تاسو د ښاری دفاع د کمیټو او د قومی غونډو نوجوړ ولو ته هڅوی څو تاسی دردیدلی هیواد وال د خپلو مجاهدو ورونو په مقابل کی استعمال کړی ، سره له دی چی روسانو د لس کلن و حشت په اوږ دو کی و نه کړای شول چی د خپلو مزدورانو دفاع وکړی او شرمیدلی له افغانستان څخه ووتل نو له تاسو اتلو هیوادوالو څخه غواړی چی د هغوی دفاع وکړی موږ هیله من یو چی تاسی به دفاعی سازمانونه په آګاهانه ډول داسی را منځ ته کوئ ، چی د خپل ملت له حقوقو څخه دفاع وکړی او په

نهایت کی د خپلو مجاهدو ورونو تر خنگ و دریږی !

له مزدور رژیم سره مرسته کول او د هغوی ملاتړ به ناوړه عواقب له ځانه سره ولری چی بیا به مسئوولیت د مجاهدینو په غاړه نه وی . ستاسو مجاهدو ورونو که ددی توان درلود چی اشغالگری قواوی له افغانستان څخه و باسی نو د دوی د مزدور رژیم رانسکورول هم مشکل کارنه دی یوازینی خنډچی د رژیم د سقوط له پاره زموږ د وروستی گام اخیستلو په لاره کی شته هغه د رژیم ترڅنگ ستاسو در نوښاریانو شتوالی دی ، موږ په دی باب هم منظم پلان جوړ کړی څو رژیم سقوط وکړی او عامه امنیت تامین شی .»

د کابل درنوښاریانو ! خویندو ورونو السلام علیکم ! ستا سو مجاهدو ورونو تصمیم نیولی څو د مزدور رژیم په مقابل کی یوشمیر تدبیرونه تر سره کړی چی دادی تاسو پری خبروو :

۱ ـ د کمربند د پوستو تسلیمول اویاله منځه وړل .

۲ ـ په کابل ښار کی نظامی اهداف تر دوامدار هدف لاندی نیول .

۳ ـ ستاسو در نوښاریانو په مرسته د مزدور رژیم ترسقوط پوری په موجوده نظام کی سیاسی او اداری گډوډ ی رامنځ ته کول .

درنوښاریانو ! د کمونست رژیم رانسکو رول او د یوه آزاد ، خپلواك او اسلامی افغانستان جوړول ستاسو له خوا له خپلو مجاهدو وروڼو سره د هراړ خیزی او بی دریغه مرستی ایجاب کوی ، له ټولو هیوادوالو څخه هیله کیږی چی لاندنی ټکی عملی کړی :



د خاد د لومړی ، دریم او څلورم ریاست جلادان په دې ماڼۍ کې د مسلمانو افغانانو په ځورولو او وژلو بوخت دي .



د تاج بیګ غونډی د روسي قواؤ د ثقل او حمل و نقل مرکز و

...او په دی مانی کی درژیم دو زیرانو شوری د وطن پلورنی معاملی کوی .

په کابل ښار کی د خوراکی موادو ترلاسه کولو له پاره دښځو ماشومانو او ځوانانو منتظر قطارونه اکثره تش لاس کورونو ته ستنیږی ..

٦

دکابل جهادي جبهې،
د بررسۍ اداري هم دي

ـ زموږ له مرکزی ګروپونو سره دی اړیکی ټینګی کړی ، نوم دی ولیکی او لازم هدایات دی ترلاسه کړی .

۲ ـ له جنایتکار رژیم سره دی هر ډول همکاری قطع کړی .

۳ ـ د دولتی وسلو ذخیری دی له منځه یو سی اویایی دی مجاهدینو ته و سپاری ....»

هو ! څو څوځل یی دا ډول شبنامی په زرها ؤنسخی په کابل ښار کی وشیندلی او د کابل ښاریانو ته یی د وروری او مینی پیغامونه ورسول . ده کولای شول چی د دی شبنامو پرځای په دوی ټوغوندی ورو توغو خودی د خپلو ورونو وژل نه غواړی او تل هڅه کوی چی توغوندی یی نظامی هدفونه وولی او اولس ته د هغه په ځای د مینی او دوروری پیغامونه ورسوی .

دا له چانه پټه نه ده چی د افغانستان د خلکو بشپړ اکثریت که په کلیو کی دی یا په ښارونو کی له مزدور او کمونست رژیم سره نه پخلاکیدو نکی دښمنی لری ، دوی په ښکاره له مجاهدینو سره ولاړدی او چیرته چی د رژیم واك دی هلته بیا په پټه کی له مجاهدینو سره اړیکی ساتی ، له دوی سره مرسته او ملاتړ کوی ، حتی د رژیم په دفترونو او ادارو کی د مجاهدینو له پاره کارکوی .

د همدی واقعیت په رڼاکی قوماندان عبدالحق په کابل ښار کی د ننه په پراخه پیمانه پټ چینلونه جوړ کړی او منظمی حوزی

یی رامنځ ته کړی دی ، په هره‌حوزه کی مختلف (ملکی او نظامی) افراد راغونډ شوی چی استادان ، پوهان ، لوړ رتبه او ټیټ رتبه منصبداران ، سرتیری ، محصلین ، زده کوونکی ، کسبګراونورپکی دی .
هره حوزه منظم تشکیلات لری چی د حوزی مسئوول ، د حوزی مرستیال او د مختلفو برخو مسؤولین پکی دی ، په هره حوزه کی دافرادو شمیر مختلف دی .

د نظامی جبهو اوښاری حوزو ترمنځ اړیکی په منظم ډول ټینګ دی او همدا سبب دی چی د کابل جبهو مجاهدین د ښاریانو له ټولو مشکلاتو او ستونځو څخه منظم خبروی او د حوزو موظف کسان د ښار د نظامی ، سیاسی ، اقتصادی او اجتماعی حالاتو منظم رپوټونه ئیکی ، جبهو ته یی سپاری او جبهی بیا د هغو له مخی خپل هر اړخیز پلانونه عیاروی او هم دارپوټونه توحید کیږی او په منظم ډول پیښور ته راځی او د ډله ایزی خبرتیا دوسایلو له لاری د هیوادوالو او نړیوالو غوږونو ته رسول کیږی .

د حوزو او جبهو له لاری د تیارو شوو رپوټونو منظمه سلسله روانه ده او وروستنی رپوټ یی نولسمه نومره رپوټ دی چی د روان کال د مرغومی په لومړی نیټه تهیه شوی او د کابل ښار سیاسی ، نظامی او اقتصادی حالات پکی ښودل شوی دی او څرګندوی چی د کابل رژیم د څارندوی ، عسکرو اوخاد تر منځ سخت نقاضتونه او حتمی اخ وډب موجود د ی او روسیه په زیاته پیمانه پرمختللی و سلی کابل ته رالیږی او دالوتکو ، مشاورینو او مدرنو وسلو له لاری د رژیم ملاتړ کوی .

هو ! د کابل جبهی د همداسی عینی حقایقو ، باوری معلوماتو

او د ښار هر اړخيزی وضعی تر څيړنی وروسته خپل جهادی ګامونه سنجيده ، شميرلی او د معلوماتو په رڼاکی اخلی . همداسبب دی چی د کابل د جبهو عمليات تل بريالی وی او رژيم په خپل ټول توان وس کړی چی په دی جبهو کی رخنه وکړی خوٌوس يی نه دی شوی او د دی جبهو د پولاډی نظم در لودو له امله دښمن نه دی بريالی شوی چی د دی مجاهدينو صفونو ته لاره و مومی اويار خنه پکی وکړی .

مرتب او خپروونکی : دافغانستان اسلامی حزب

د کابل ولایت د مجاهدینو عمومی آمریت فرهنگی کمیټه .

د چاپ کال : ل: ۱۳۶۸ ژمی

د چاپ شمیر : ۲۰۰۰ټوکه .

۷

دجزی ۶ :

توره شپه

په دشمن توره شوه

پرافغانستان باندی دروسانو د تیری څلور م کال ؤ ، د ۱۳٦۲
کال د مرغومی شپږمه نیټه رالنډه شوی وه ، په خلکو کی خوره وه
چی مجاهدین به په دی ورځ په کابل ښار درنی حملی کوی ، رژیم
هم په سخته ویره کی ؤ خوبیاهم د دی له پاره چی خپل قوت او
قدرت وښیی او دتل په شان د ځان په گټه تبلیغ وکړی نوویل به
یی چی موږ ښیخی پروضع حاکم یواو بشپړامنیت ټینگ دی خوله بلی
خوایی دا هڅه هم کوله چی د دی لافو ترڅنگ مجاهدینو ته پیسی
او وعدی ورکړی او په دی ورځ د دوی د بریدونو مخه ونیسی . په

همدی سلسله کی کابل رژیم قوماندان عبدالحق ته پیشکش وکړ چی مونږ به ۲۷ ملیونه افغانی در کړو په دی شرط چی ته کابل ته د برښنادلین غزولو پایی له منځه یو نسی . خو قوماندان عبدالحق پوهیده چی که کمونستی رژیم او روسانو ته موقع ورکړه شی چی په آرامی دغه توره ورځ تیره کړی نو رژیم به په سیاسی او روانی توګه ډیر غټ قوت او جرأت ترلاسه کړی او همداوو چی د حکومت د دی پیسو وړاندیزیی رد کړ او په عملی فعالیت بوخت شو .

قوماندان عبدالحق او ملګرو یی له سرو بی څخه د کابل په لور ډیری تللی پایی رانسکوری او د برښنالینو نه یی قطع کړل ، د ما هیپر د برښتا په فابریکه یی هم برید وکړ او له کاره یی واچوله او به دی توګه کابل ته داوبو د برښنالیږدولو لینونه قطع شول .

د رژیم د امید رڼا د هودخیلو له حرارتی برښناسره تړلی وه ، څکه دی برښناهم کولای شوای چی د ښارډیره برخه روښانه کړی او خصوصاً د رژیم له پاره د جدی شپږمه توره شپه رونه کړی .

قوماندان عبدالحق د برښناله دی فابریکی څخه هم غافل نه ؤ نو څکه یی د دی ستیشن د فلجولو له پاره هم لیچی وغړلی ، له بلی خوا رژیم هم د دی ستیشن د ساتلو له پاره کلك امنیتی تدبیرونه نیولی وو او هم په دی منطقه کی د رژیم امنیتی پوستی موجودی وی چی د مجاهدینو ور تلل ډیر سخت او ستونځمن وو . قوماندان عبدالحق په خپل تصمیم کی قاطع ؤ او پتییلی یی وه په هر قیمت چی کیږی باید دا ستیشن له کاره و غورځوی . نقشه یی جوړه کړه او له خپلو یارانو سره د عملیاتو په لور روان شو .

قوماندان عبدالحق له خپلو مجاهدینو سره د مرغو می په

پنځمه شپه چې دژمې سخته یخنی هم وه د شپې له خوا هو د خیلو

ته له خپل یوه ارتباطی منصبدار کره ځانونه ورسول او له هغه

ځایه یې پرستیشن باندی د یرید کولو ترتیبات ونیول . نوموړی کور

که څه هم له ستیشن سره لنډو خو ترمنځ یې د کابل سیند تیریده

او په شپه کی له دی سیندنه تیریدل په کار ؤ د دوی نقشه داوه

چې د جدی په شپږ مه شپه له دی کوره و وزی د سیند له او بو

واوړی او په ستیشن برید وکړی ، رژیم هم د حفاظتی اقداماتو په

لړکی په دی سیمه کی کورونه تلاشی کړل او د مجاهدینو لټه یې

کوله د قوماندان عبدالحق او ملګرو پناهګاه یې د یوه عسکری

منصبدار کورؤ ،نو ځکه دا کور له تلاشی څخه بچ پاتی ؤ او دوی په

آرامی خپله شپه او ورځ هلته تیر کړل .

د دوهمی شپې له ماښام سره چې د جدی شپږمه شپه وه

عبدالحق له خپلو مجاهدینو سره له دی کوره ووت ، کابل سیند

ته په رسیدو سره مجبور وو چې په دی یخو اوبو کی چې ترنامه

پورته رسیدلی ګوشی او بلی غاړی ته واوړی او په دی سر بیره،

دوی باید خپلی درنی وسلی هم ورسره پوری ایستلی وای ، دوی

بله هیڅ چاره نه درلوده ، درنی وسلی او مهمات یې په لاسونو کی

لوړ و نیول او له اوبو څخه پوری وتل ، جامی یې لندی شوی وی او

یخنی لړزول خو بیاهم په درنو ګامونو د ستیشن په لور روان وو ،

د برښنا د ستیشن شا او خوا ټانکو نه ، عسکری موټر او زیات

پرسونل ځای پر ځای شوی وو نو کله به کوم مجاهد وویل چې

پردی ستیشن عملیات ممکن نه دی . خو د عبدالحق او نورو

مجاهدینو عزم ډیر ټینګ ؤ او اراده یې کړی وه چې په هر قیمت

وی د رژیم غرور ورمات کړی همغه ؤ چی دا توبجو شا او خوایی په سټیشن عملیات پیل کړل او تر هغه یی برید ته دوام ورکړ څو چی یی سټیشن نه او رواچاوه او ډاډه شول چی ددوی وارونه په هدف لگیدلی دی . داد مجاهدینو وروستی فیرونه وو چی په هدف ولگیدل ځکه له همدی سره د دوی مرمی او حربی مهمات چی په ډیر تکلیف یی له ځان سره له سیند څخه اړولی وو بیخی ختم شول .

عبدالحق مجاهدینو ته تربریالیو عملیاتو وروسته د بیرته ستیندو قومانده ورکړه او بی له دی چی مرمی او مهمات ولری د هو د خیلو په سر کونوکی راغبرگ شول ، دوی په لاره روان وو چی نا ببره له یوه بام څخه غږ پری وشو : و دریږئ ! څوك یاست ؟ کله چی عبدالحق او مجاهدینویی وکتل د سرك دواړو غاړو ته د ټوپکو او ماشیندار و خولی د دوی په لور سمی دی . عبدالحق په جرأت په ځواب کی ورته وویل : موږ مجاهدین یو ! که تاسو جزوی حرکت وکړ ، ستاسی پوستی او موضعگانی به هم د دغه برښنا د سټیشن په شان داور په لمبوبدلی کړو .

د دښمن قواوی د عبدالحق دی غږ تر رعب او ویری لاندی راوستلی او له خپلو ټولو وسلو او قدرت سره یی د دی جرأت و نه کړای شو چی په تش لاسو مجاهدینو فیرو کړی . عبدالحق دوضعی تردرك وروسته خپلو مجاهدینو ته وویل چی په آرامی سره مخکښی روان شئ ! او په دی ترتیب دوی له دی سیمی څخه مصؤون ځای ته ځانونه ورسول . په دی خطرناکو عملیاتو کی یوازی دوه تنه مجاهدین ټپیان شول او ددی عملیاتو په وسیله یی د جدی د شپږم توره شپه پردښمن تپه تیاره کړه .

جبهی اوقوماندانان

قوماندان عبدالحق له کابل ښار څخه بهر د کابل ولایت په مربوطاتو کی ۲۳ لویی عمومی جبهی لری چی هره جبهه بیا فرعی جبهی اوګڼو پونه لری .

په عمومی قوماندانی پوری د مربوطو جبهو د آمرینو نومونه او د فعالیت سیمی دادی :

۱ ـ حاجی در محمد خان د گل محمد خان زوی د کابل ولایت د چهار دهی د ولسوالی او سیدونکی د چهار دهی د جبهی قوماندان.

۲ ـ حاجی میا محمد آغا د غلام سخی خان زوی د کابل ولایت د چهار آسیاب د ولسولی اوسیدونکی د چهار آسیاب د جبهی قوماندان،

۳ ـ خانمیر د حاجی الله نور خان زوی د کابل ولایت د پغمان د ولسوالی او سیدونکی د دره زرگو د جبهی قوماندان.

٤ ـ حاجی ارسلا د حاجی عبدالستار زوی د کابل ولایت د بگرامی د ولسوالی اوسیدونکی د خورد کابل د جبهی قوماندان.

٥ ـ اسد الله خان د خان محمد زوی د کابل ولایت د پغمان د ولسوالی او سیدونکی د پغمان د دوهمی حوزی قوماندان.

٦ ـ محمد حکیم خان د امیر جان زوی د کابل ولایت د ده سبز د ولسوالی او سیدونکی د ده سبز د حوزی قوماندان.

۷ ـ مامور پاینده محمد خان د لعل میر خان زوی د کابل ولایت د شکر دری د ولسوالی او سیدونکی د شکردری د دوهمی حوزی قوماندان.

۸ ـ ضابط وصیل خان د عبدالجمیل خان زوی د کابل ولایت د پغمان د ولسوالی او سیدونکی د پغمان د دریمی حوزی قوماندان.

۹ ـ محمد طاهر خان د خواجه گل خان زوی د کابل ولایت د قره باغ د ولسوالی او سیدونکی د استالف د حوزی قوماندان.

۱۰ ـ معلم محب الله خان د مومن خان زوی د کابل ولایت د چهار دهی د ولسوالی او سیدونکی د چهار دهی د دوهمی حوزی قوماندان.

۱۱ ـ آغا جان د محمد اسلام زوی د کابل ولایت د سروبی د

ولسوالی اوسیدونکی د اوزبین د حوزی قوماندان .

۱۲ ـ سیف الرحمن د سیدالرحمن زوی د کابل ولایت د سروبی د ولسوالی او سیدونکی د شپول بابا د.جبهی قوماندان .

۱۳ ـ جان آغا د جلال خان زوی د کابل ولایت د شکردری د ولسوالی او سیدونکی د شکردری د جبهی قوماندان .

۱٤ ـ جنت گل خان د حاجی بابا گل خان زوی د کابل ولایت د چهار آسیاب د ولسوالی او سیدونکی د ملنگ بابا د جبهی قوماندان .

۱۵ ـ ملا صالح محمد خان د عبدالحکیم خان زوی د میدان ولایت د کوتی اشرو او سیدونکی د میدان د دوهمی حوزی قوماندان .

۱٦ ـ زرگی د معراج الدین زوی د کابل ولایت د بگرامی د ولسوالی او سیدونکی د شیوه کیو د حوزی قوماندان .

۱۷ ـ ملا محمد یوسف د محمد صدیق خان زوی د میدان ولایت د جلریز د ولسوالی او سیدونکی د جلریز د حوزی قوماندان .

۱۸ ـ امیر محمد خان د حاجی غمی زوی د کابل ولایت د ماهی پر او کوه صافی په سیمه کی د شهید شیر محمد د جبهی قوماندان .

۱۹ ـ ملا زین الدین د نظراب الدین زوی د کابل ولایت د چهار دهی ولسوالی او سیدونکی د چهار دهی د دارالامان د جبهی قوماندان .

۲۰ ـ ضابط گل احمد د میر احمد زوی د کابل ولایت د سروبی د ولسوالی او سیدونکی او د سروبی د سیاری جبهی قوماندان .

۲۱ ـ مولوی امان الله د عنایت الله زوی د کابل ولایت د سروبی ولسوالی او سیدونکی او د ماهیپر د جبهی قوماندان .

۲۲ ـ ذبیح الله د محمد الله زوی د کابل ولایت د استالف اوسیدونکی او د استالف د جبهی قومندان .

٨

مل :

- دجبهه و پێژندنه
- ڤخو سرلوڕی شهیدان

ځوسرلوړی شهیدان

د کابل جبهو د خپل فعالیت به د وران کی بی ساری بری دخپلو زړورو غازیانو په سرښندونه او د وینو په بیه ترلاسه کړی دی په دی لاره کښې ډیر ځوانان شهیدان شوی چی د ټولودیاړنی یاد به تل پاتی او زموږ د جهاد د ځلانده تاریخ یوزرین باب وی ·

د دی اتلانو او قهرمانانو له ډلی څخه یوازی څو تنه دلته

بسم الله الرحمن الرحيم

سریزه

په دی رساله کی تاسو در نولو ستونکو ته زموږ د سپیڅلی او سر لوړی جهاد یوه لویه جبهه در پیژنو ، داسی یوه لویه جبهه چی د جبهو یوه پراخه سلسله تری را چاپیره ده او داسی یوه بریالی جبهه چی د هیواد په زړه او د کابل په ښار کی دننه فعالیت لری ، وسله وال جهاد کوی ، فکری جهاد کوی ، عملی جهاد کوی ، علمښی جهاد کوی ، منظم جهاد کوی او د جهاد او جهادی فعالیت له پاره سنجیده او تنظیم شوی پا خه او شمیرلی گامونه اخلی .

په لنډ ډول بادوو او څرنګه چې ټول خلك يې له ميړانې اوكار نامو څخه خبر دي هغوی ته يې پوځل بياور يادوو .

* * * *

شهيد ضابط عبدالحليم خيرخواه د نظام الدين زوی د کابل ولايت دبګرامي ولسوالی د شيوه کيو په کلي کې زيږيدلی دی . خپله زده کړه يې ترنهم ټولګی پوری د شيوه کيو په ليسه کې سرته ورسوله او بيا د پوليسو په اکاډمی کی د زده کړی لپاره شامل شو ، ۲۳ کلن ؤ چه د اکاډمی څخه فارغ شو . د فراغت څخه وروسته د تورخم دشمشاد تانی ته د صاحب منصب په صفت وليږل شو . هلته د ده ترلـيږلو لږ وخت وروسته کمونستی رژيم په کابل کې قدرت ترلاسه کړ . څرنګه چه ضابط عبدالحليم فطرتاً په دين او وطن مين او دردمند ځوان ؤ نو د کمونستانو د غير انسانی رژيم سره يې کار او مرسته د دين او وطن سره جفا و ګڼله . ده هلته د نورو صاحب منصبانو او عسکرو په منځ کی د رژيم په ضد فعاليت پيل کړ همهغه ؤ چه د ده د هلو ځلو په نتيجه کی دشمشاد د سرحدی تانی څخه د ده په شمول ۲۳ تنه عسکر او صاحب منصبان له خپلو وسلو سره له مجاهدينو سره يو ځای شول .

ضابط عبدالحليم څه موده په پيښور کی ؤ او د هغه ځای څخه بيرته د جهاد په نيت افغانستان ته ستون شو .

د کابل ولايت د مجاهدينو عمومی قوماندان عبدالحق ته چه د ضابط عبدالحليم ميړانه او ايمانداری معلومه وه ، نو همهغه ؤ چه د خان په څنګ کی يی د يوه تکړه ملګری په صفت و مانه او دده سره په ګډه ئی ځينی عمليات په شيوه کيو بګراميو او د کابل په نورو سيمو کی په روسانو او د دوی په مزدور حکومت باندی اجرا ګړل .

د ضابط عبدالحلیم د جهادی ښو تد بیرونو او زړه ورتیا په وجه د کابل د جهاد عمومی ،قوماندان عبدالحق ده ته د شیوه کیو د مرکز او شاوخوا سیمو د جهاد مسئولیت ورروسپاره . ضابط عبدالحلیم په لږ وخت کی روسانو او د کابل حکومت ته داسی ملاماتوونکی گوزارونه ورکړل چه د هغی په وجه د روسانو او کابل د کاغذی حکومت د زوال نښی ټولو ته برسیره شوی . ده دری ځله د کابل په بالاحصار باندی کامیاب عملیات تر سره کړل ، او د (۱۵۰) ځخه زیاتی چریکی حملی یی په روسانو او کمونستانو باندی اجرا کړیدی . د کابل او سیدونکی او حتی د افغانستان خلك د ضابط حلیم د توری ، میړانی او ایمانداری نه پوره خبر دی بالاخره کله چی د جهاد دغه زړه ور سپاهی او سرلښکر د ۱۳٦۱ کال د میزان په میاشت کی دعا شورا په لسمه د کابل په بالاحصار باندی دیوه فیصله کن او قاطع عملیات په اجرا باندی اخته و ، د دښمن د یوی ناځوانه توطئی په واسطه په شهادت ورسول شو .

(انا لله وانا الیه راجعون)

* * *

شهید ضابط محمد جان د خواجه گل زوی دی چی په ۱۳۲۱ هـ ش کال کی د کابل ولایت د قره باغ اولسوالی د دوجوی په قلعه اخوندکی زیږیدلی ؤ ، خپلی لومړنی زده کړی یی د قره باغ په لومړنی ښوونځی کی پیل کړی ، په ۱۳۳۴ کال د کابل په حربی ښوونځی کی شامل او په ۱۳۳۷ کال په اعلی درجه تری فارغ شو او تر ۱۳۵۲ کال یی په حربی مسلك کی وظیفه اجرا کړه . په ۱۳۵۲ کال کی یی رسمی وظیفه پریښوده او داسلامی مبارزی په لیکو کی



شهید هُرامِوز

شهید شیر محمد

شهید ضیا محمد ا جان

شهید عبدالوکیل

تنظیم شو ، د ۱۳۵۷ کال په منځ ـ منځ کی یی وسله وال اسلامی جهاد ته لاس و غزاوه او د خپل مربوط اسلامی تنظیم له خوا د قره باغ اولسوالی د استالف د علاقداری جبهو امارت وروسپارل شو . ده د خپل اته کلن اسلامی جهاد په اوږدو کی داسی نه ستړی یدونکی وظیفه ترسره کړه چی له ۱۳۵۸ تر ۱۳۶۲ کال پوری روسی قواؤونه کړای شول چی د سالنګ له غاښی نه بیاتر کابل پوری په ډاډ او سالمی راتیری شی او تل روسی قطارونه ده د وسلی تر اور لاندی وو او د دښمن په سلګونو ټانکونه او نظامی مهمات یی له منځه یوړل او په سلها ؤ روسان یی دوزخ ته واستول ، ده په دی سربیره دروسانو او ملحد دولت په پوستو پر له پسی عملیات کړی او دبګرام هوایی ډګریی هم له بریدونو څخه په امن نه ؤ او د دښمن ځوالوتکی یی رانسکوری او د هغری عمله یی ووژله .

د ، دوسله وال جهاد تر څنګ د خپلو جبهو د ښوونی او روزنی ، اجتماعی چارو او د علماؤ تبلیغی فعالیتونو ته هم خاصه توجه درلوده .

ضابط محمد جان د ۱۳۶۵ کال دلیندی په لومړی نیټه دشینوارو د نازیان په اولسوالی کی له وحشی روسانو سره په یوه مخامخ جګړه کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

انا لله وانا الیه راجعون

شهید انجینر حمید الله مشهور په فراموز د کابل ولایت د چهار دهی په ولسوالی کی زیږیدلی دی . ده خپل تحصیلات د برښنا په رشته کی د کابل په میخانیکی لیسه کی ترسره کړل او په ۱۳۵۸ کال کی

د هغی لیسی د ۱۴ ټولګی څخه فارغ شو . نوموړی له دین او وطن سره د خاصی علاقی په وجه له درس څخه د فراغت سره سم په مسلح جهاد لاس پوری کړ چه لس کاله پوره د دین او وطن د دښمنانو سره په پوره میړانه او متانت سره وجنګید .

شهید فراموز د چهاردهی د جبهی د مجاهدینو په اکثرو عملیاتو کی تل په لومړی لیکه کی ولاړ ؤ .

د ۱۳۶۸ کال د اسد د میاشتی په ۱۴ نیټه د چهاردهی مجاهدینو په للندر کی ددښمن پر پوستو باندی عملیات ترسره کړل چه په هغی کی د دښمن دری پوستی مکملی فتحه شوی ۲۲ تنه افسران او عسکر ژوندی ونیول شول ، او (۴۰) میله مختلفه وسله مجاهدینو په غنیمت ترلاسه کړه . خو دهمدی عملیاتو په بهیر کی د چهاردهی د جبهی قهرمان او نامتو مجاهد انجینر فراموز هم خپلی همیشنی هیلی یعنی د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

انا لله وانا الیه راجعون

❊ ❊ ❊ ❊

شهید شیر محمد د حاجی غمی زوی د کوه صافی او ماهیپر د جبهی قوماندان چی د یوه پراخ عملیات په ترڅ کی په ماهیپر او شاو خوا سیمو پوستو باندی د شیر محمد تر قوماندی لاندی تر سره شول او پوستی ټولی فتحه شوی د ۱۳٦۸ کال په اوړی کی د شهادت لوړ مقام ته ورسید .

❊ ❊ ❊ ❊ ❊

شهید قوماندان عبدالوکیل د عبدالهادی زوی د کابل ولایت د پغمان د ولسوالی او سیدونکی . نوموړی په کال (۱۳۴۲) د خالداری

د کابل مدبر قوماندان حاجی عبدالحق

د کابل اتل قوماندان حاجی عبدالحق

حاجی عبدالحق او مجاهد ورونه یې د دښمن د نظامي اهدافو د
ټاکلو له پاره په نقشه کار کوي .

اتل قوماندان په جهاد کې خپله پښه له لاسه ورکړه خو اراده یې
لا ټينګه او پياوړې شوه

حاجي عبدالحق د يوه اغيزمن سنگر د جوړو لوځای گوري .

د جهاد تر د احساس سخت او سوړژمی د مجاهدين له پاره آسانه کړي دي .

B
4.3832
HIA
6784

قوماندان
حاجی عبدالحق

په کلی کی په یوه دینداره کورنی کی لوی شوی ؤ ، د کمونستانو د قدرت ته‌رسیدو سره یی په جهاد لاس پوری کړ ، او په پغمان کی ئی د حاجی عبدالحق تر قوماندی لاندی جهاد کاوه . په کال (۱۳٦۰) کی د روسانو له خوا په یوه مخامخ جګړه کی د شهادت مقام ته ورسید .

شهید میا محمد جان د مست عالم زوی د کابل ولایت دبګرامیو دولسوالی د دربند د کلی او سیدونکی په کال (۱۳۳۰) په یوه دینداره کورنی کی پیدا او په کال (۱۳٦۵) د سنبلی په میاشت کی د روسانو له خوا په شهادت ورسید .

۱

کابل
دافغانستان زړه
د تحرک مرکز

دا جبهه د الحاج عبدالحق تر قوماندی لاندی ده چی په
نړیواله سطحه پیژندل شوی قوماندان دی او په مدبرانه ډول خپل
جهاد پر مخ بیایی او د کابل رژیم ترزنی لاندی پوخ او په پوهه
سنبال فعالیت کوی ، بریالی جهاد کوی او دښمن ته خوله ماتوونکی
گوزارونه او ورمیږ ماتوونکی ضربی ورکوی .

راځئ په دی رساله کی د همدی جبهی یو سرسری جاج اخلو
او یو لنډ سفر ورسره کوو . دا ددی سلسلی پیلا مه ده او بیابه
انشاءالله د دی جبهی او له هغه سره د مربوطو جبهو مفصل او
تارتاریز معلومات هم ستاسو مخی ته ږدو او د خپل هیواد او خپل
جهاد د زرین تاریخ غیږی ته به یی سپارو .

ومن الله التوفیق

«اداره»

افغانستان د آسیازړه دی او کابل د افغانستان زړه دی ، ځکه چی کابل د افغانستان پایتخت دی ، د افغانستان سیاسی او اداری مرکز دی ، دافغانستان اقتصادی او فرهنگی مرکز دی ، د افغانستان د ملی شتمنیو ، تاریخی شتمنیو او بنیادی شتمنیو مرکز دی او په همدی ښار کی ملی او بین المللی مؤسسی او تأسیسات جوړ شوی او فعال شوی دی :

د کابل ښار له دی امله هم زیات اهمیت موندلی چی افغانستان د واحد قوی او مرکزی سیاسی نظام په لرلو سره له دوو

سږو کلونو راپه دېخواله دی ښار نه د خپل سیاسی مرکز په توګه کار اخیستی او له همدی کبله د خوځښتونو ، قیامونو ، نهضتونو او بالاخره د خونړیو جګړو ډګر هم ګرځیدلی او دافغانستان د سرنوشت ټاکنی د مرکز په توګه پاتی شوی دی . او هم کابل دافغانستان د ټولو مذهبونواو قومونو د سره یووالی او یو ځای والی ځای هم دی .

خلقیانو د ۱۳۵۷ کال په غوایی کی په همدی مرکزی ښار کی کودتا و کړه او د هیواد هر څه یی لاندی او غصب کړل او د کمونست رژیم اړیکی اوس هم د همدی مرکزی ښار له لاری له بهرنیو ملکو نوسره ټینګی دی او هم د مرکزی حکومت په غصبولو سره لاتراوسه خپل لاس پوځی حکومت ته دوام ورکوی . او د کابل رژیم مهم نظامی مرکزونه ، د خاد د جاسوسی اداره ، نشراتی او تبلیغاتی مراکز او د دوی د ننګین ژوند د بقا ټول وسایل په کابل کی دی ، نو ځکه کابل د کمونست رژیم له پاره حیاتی ارزښت لری او د کابل له سقوط سره د دوی دایمی زوال هم تړلی دی .

له هماغه لومړی سره کمونستانو او بیا روسانو د کابل ټینګولو ته زیاته توجه درلوده ، دوی له هماغه پیل نه په کابل کی درانه امنیتی تدبیرونه نیولی او خپل زیات قوت یی په کابل کی ځای په ځای کړی دی ، روسانو د خپلو تخمیناً (۱۲۰۰۰) عسکرو څخه یو ثلث په کابل کی ځای پرځای کړی وو او له همهغه وخته راهیسی کمونستی رژیم د کابل ښار د ساتنی له پاره د ښار شا او خوا خپلی امنیتی پوستی ټینګولی او شمیریی ورځ په ورځ زیات کړ .

له همدی امله دی چی کابل د کمونست رژیم له پاره حیاتی

بنه لری او خپل ټول قوت اوانرژی یی د کابل د ساتنی له پاره وقف کړی دی .

کابل لکه څومره چی د کمونست رژیم له پاره ارزښت لری همدومره د مجاهدینو له پاره هم دارزښت وړدی او خاص اهمیت ورته لری .

د کمونستانو ترکود تا وروسته چی په افغانستان کښی جهاد اوپا څون پیل شو نو کابل هم د مجاهدینو له پاره لومړی ارزښت درلود ، له کودتا سره جوخت په ښار کښی دننه فکری غور ځنګونه او پټ تماسو نه پیل شول او همداوو چی کمونستانو هم له هماغه پیل نه د مسلمانو او هیوادپالو کسانو په نیولو لاس پوری کړ ، زندانونه یی تری ډك کړل او په وژلتونونو (پولیګونونو) کښی یی مړه او نیم ژواندی تر خاورو لاندی کړل .

د کمونستانو اختناق او وحشت نه یوازی داچی اسلامی نهضت غلی نه کړای شو بلکه لا یی غښتلی او پیاوړی کړ او لکه څنګه چی په ولایاتو او کلیوالی سیموکښی وسله وال جهاد زور واخیست همداسی په کابل ښار کښی فکری جهاد غښتلی کیده او دوسله وال جهاد سنګرونه د کابل شا او خواته رالنډیدل او د کابل غیرتمن او متدین خلك له همغه وخته تراوسه پوری له ټولو مشکلاتو او خطراتو سره ـ سره له مجاهدینو سره څنګ په څنګ د کمونست رژیم د زوال په خاطر هری قربانی ته حاضر شول او د مجاهدینو هر دستوریی په وړین تندی منلی او په جهاد او قیام کښی یی پیاوړی نقش درلودلی دی .

رښتیا هم که له مجاهدینو سره د دوی ملاتړاو همکاری نه

۲

حاجی عبدالحق؛
مدبر قوماندان
مفکر لارښود

وای او ددوی سر ښندنه او قربانی نه وای ، مجاهدینو په کابل ښار کښې داسې ژوره رخنه نشوای کولای او داسې بې ساری بریالیتوبونه مجاهدینو نشوای ترلاسه کولای .

دوی زندانونو ته ولاړل ، شهیدان شول ، په تش لاس خو په لوړهمت یې د چنداولو ، بالاحصار ، دیشخور او د کب د د دریمی او په ۱۳۵۹ کال کښې د معارف او پوهنتون پر له پسې روښنفکری ، اولسی او عسکری قیامونه وکړل او مزدور رژیم ته یې ژور او نړیوال ټکانونه ورکړل او دنیا ته یې په ډاګه کړه چې لاس پوځی رژیم نه په اولس کښې نفوذ لری ، نه په عسکرو کښې نفوذ لری او نه په روښنفکرانو کښې پلویان او ملاتړ .

هو ! دی ټولو جنګونو ، ننګونو ، قیامونو ، تدبیرونو او منظمو بهیرو نوترشا د قوماندی ، اداری او سنجش مرکزونه در لودل او د مجاهدینو منظم سنګرونه .

د کابل یو پیاوړی جهادی سنګر چې هم وسله وال فعالیت لری او هم یې د فکر او تدبیر له لاری په کابل ښار کی د ارتباط مزی غزولی د حاجی عبدالحق په مشری د مجاهدینو سنګردی چې د جهاد په اوږدو کښې یې مدبرانه او مسلحانه نه ستړی کیدونکی فعالیت کړی او د کابل جهادیې منظم او اغیزمن کړی دی .

د کابل ځوان قوماندان حاجی عبدالحق دیرش کاله وړاندی د ننگرهار ولایت د سره رو دا ولسوالی د عربی سیدانو په کلی کی نړی ته سترگی پرانستی ، په دینی او اسلامی روحیه یی زده کړه وکړه او به ډیر کم عمر کښی د الحاد او فساد په مقابل کښی عملی قیام ته چمتو شو .

دی په ۱۳۵۴ کال کی د داو د د رژیم له خوا له خپلو مشرانو ورونو سره هجرت ته اړکړای شو . عبدالحق له خپلو ورونو اونورو ملگرو سره د داؤد د رژیم دړنگولوله پاره فعالیت کاوه او

کابل د آزادی په لور



PARWAN
پروان
KAPISA
کاپیسا
LAGHMAN
لغمان
NINGARHAR
ننگرهار
LOWGER
لوگر
WARDAK
وردک
Kabul
کابل
استالیف
Estalaf
قره باغ
Qarah Bagh
کلکان
Kalakan
Dakola Payan
دکوی پایان
زمه
Zima
میربچه کوت
Mirbachakot
شکردره
Shakardarah
قلعه مرادبیگ
Qalye Moradbik
ده سبز
Deh Sabz
گوگاه مانده
Gogah Manda
سروبی
Sarobi
یخ دند
Yakhdand
پغمان
Paghman
میدان هوائی بین المللی کابل
Kabul International Airport
ارغنده
Arghandeh
بگرامی
Bagrami
بوتخاک
Bot Khak
چهاردهی
Chahardehi
چهارآسیاب
Chahar Asyab
خاک جبار
Khak Jabar
جکدلک
Jakdalak
چکری
Chakari
تهزین
Tahzin